# خرمیله

د ا نسان کمی راغلی خرمیله جوړ په کابل دي
د ثروت پرسرجنګونه د ارزالو یو تر بل دي
دځنګل قانون چلیږي هرزورواک وکیل وزیر دي
اساسی قا نون پا یما ل دزورواکو تر هر پل دي
عد ا لت کډه کړی د ا نصا ف تله بی وزنه
هر نادان او جاهل د قا نون په مخ حا یل دي
د مینو پا که مینه هم زنا او هم ګناه دي
پیغلی تېول په کوربندي سپینی کړی تور کاکل دي
صرف ملا ،طالب مومن نور له سره کا فران دی
د ا منطق ا و د ا فتوا دهمد و اشرار جا هل دي
(مل) امان دی پکا ر له دی غلو داړه ما رانو
دوي هریو د ا فغا ن هم جلاد او هم قا تل دي
****

پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)
جرمنی «2019-05-30»